Deputy PM for Economic Affairs Office
د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت

# د افغانستان اقتصادي پرمختګ

(خبرپاڼه)

ګڼه: ۷
نېټه: ۱۴۰۳/۱۰/۱۲



د افغانســتان د اقتصادي پرمختګ (خبر پاڼه) د رياست الوزراء اقتصادي معاونيت نوښت دی چـې د افغانســتان تـر ټولو مهم او وروســتي اقتصادي پرمختګونه منعکسوي.

د دې خبر پاڼې په لوستلو سره چې په درېيو ژبو (پښـتو، دري، انګليـسي) چمتـو او خپرېـږي، تاسـو کولی شـئ د افغانســتان د وروســتيو اقتصادي پرمختګونو څخه خبر شئ.

## په دې ګڼه کې لولئ:

۱- کابل ته د قزاقي پلاوي سفر ته ځغلنده کتنه
۲- فراه ولايت کې د کج صمد ستر بند د څېړنيزو چارو پيل
۳- هيواد ته د چين لومړنی ريلي ترانزيتي محمولې رارسېدل
٤- د بادغيس قادس ولسوالی د اوبو ذخيروي بند کاري پرمختګ ته کتنه

# کابل ته د قزاقي پلاوي سفر ته ځغلنده کتنه



د روان لمریز کال د مرغومي میاشتې په ۵مه نېټه د قزاقستان یو پلاوی د دغه هېواد د سوداګرۍ او ادغام وزارت د مرستیال کایرات توربایف په مشرۍ کابل ته راغلی و. توربایف چې د څلوېښت کسیز پلاوي مشري یې کوله، د افغانستان د سوداګرۍ له سرپرست وزیر نورالدین عزیزي یې وکتل او وروسته دواړو د اسلامي امارت د رسنیو مرکز کې خبریالانو ته د دواړو هېوادونو تر منځ د سوداګریزو اړیکو په اړه مالومات ورکړل.

د سوداګرۍ وزیر په مالوماتي کنفرانس کې وویل چې د دواړو لورو تر منځ د سوداګریزو اسانتیاوو برابرولو، له افغانستان څخه قزاقستان ته د قیمتي او نیمه قیمتي ډبرو، کاني توکو، پنبې، نوشابو، تازه او وچو مېوو پر صادراتو هوکړې شوې دي. دغه راز، د دواړو هېوادونو د هوايي شرکتونو له لوري د کابل او الماتا تر منځ د مستقیمو الوتنو پیل، د اوسپنې پټلۍ له پروژې د قزاقستان ملاتړ او همکاري او د خارګوس په بندر کې د افغاني توکو له پاره د سیمې ځانګړي کولو په ګډون ګڼ هوکړه لیکونه شوي دي.

د قزاقستان د سوداګرۍ او ادغام وزارت مرستیال وویل، له افغانستان او افغان شرکتونو سره همکارۍ ته ارزښت ورکوو او اصلي موخه مو سوداګري ده. توربایف زیاته کړه، له قزاقستان څخه د خصوصي سکتور په ګډون له بېلابېلو برخو د شاوخوا ۴۰ کسانو په ګډون یو پلاوی راغلی او غواړي د کانونو، مخابراتو، مالوماتي ټکنالوجۍ، ټرانسپورټ او نورو برخو کې همکاري وکړي.

د اسلامي امارت له راتګ وروسته ډېرو قزاقي چارواکو کابل ته او افغان چارواکو استانې ته سفرونه کړي دي. په دې سفرونو، په ځانګړې ډول کابل ته د قزاقستان د لومړي وزیر د مرستیال په سفر کې د دواړو لورو تر منځ د سوداګرۍ د پراخېدو او ټینګښت په موخه ګڼ هوکړه لیکونه لاسلیک شول.

د روان لمریز کال د تلې په ۲۷مه نېټه د هېواد د سوداګرۍ سرپرست وزیر هم دافغان-قزاق دویم نندارتون کې د ګډون په موخه قزاقستان ته سفر کړی و.

په هغه نندارتون کې ۲۵۰ افغان سوداګرو بېلابېل محصولات او تولیدات نندارې ته وړاندې کړي وو. قزاقستان د اسلامي امارت په اړه مثبت نظر لري او د اړیکو د نږدې کېدو او ټینګښت په اړه یې ښه ګامونه پورته کړي دي. قزاقستان په روان کال کې په خپله پلازمېنه کې د اسلامي امارت شارژدافیر ومانه.

قزاقستاني چارواکو هغه مهال ویلي وو چې په دې ګام سره به د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګري او اقتصاد اړیکې پیاوړي شي. قزاقستان د افغانستان مهم سوداګریز شریک دی. اوسمهال د دواړو هېوادونو تر منځ سوداګري یو میلیارد ډالر ده او هڅې کېږي چې دغه سوداګري درې میلیارد ډالرو ته لوړه شي.

# فراه ولایت کې د کج صمد ستر بند د څېړنیزو چارو پیل



په افغانستان کې بهرنی اشغال او جګړې د دې لامل شـوي چې اوبه یې په سم ډول او پر وخت مدیریت نه شي او همدا لامل دی چې په هېواد کې په ډېرو سـیمو کې د ځمکــې اوبو لاندې سطحه ټیټه شوې او دښتې ابادې شوې نه دي. د هېواد لویدیځ کې فراه او نیمروز له هغو ولایتونو څخه دي چې وچکالۍ سخت ځپلي او هلته شته اوبه په سم ډول مدیریت شوې نه دي. د همدې ولایتونو د اوسېدونکو ستونزو ته په کتو اسلامي امارت هوډ کړی چې په فراه کې د کج صمد بند جوړ کړي. په همدې اړه د اســلامي امارت د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت سرپرست وزیر ملا محمد یونس اخوندزاده فراه ولایت ته ســفر وکړ او هلته یــې د دوه میلیارد افغانیو په ارزښــت د کج صمد بنــد د څېړنې چارې پرانېستې.

د پرانېســتې مراســمو کې د نیمروز او هلمند والیانو، یو شمېر ځايي امارتي مسوولینو او عامو هېوادوالو هم حضور درلود.

د فــراه د کج صمد بند ۵۶ مــتره لوړوالی او د ۱۴۰ میلیون متر مکعب اوبو د ذخیره کولو وړتیا لري. دا ستره ملي پروژه د فراه او نیمروز ولایتونو په یوې ستړې وچې سیمه کې موقعیت لري او اوبه یې د ســیمې له پاره حیاتي ارزښت لري. سرپرست وزیر وویل، د بند د کار په جریان کې به زرګونو تنه هېوادوالو ته د کار زمینه برابره شي. د دغه بند په بشــپړېدو سره به ۱۴۰۰۰ هکتاره ځمکــه خــروب شي او د افغانســتان د کرنیز اقتصاد په وده کې به مهم رول ولوبوي.

# هیواد ته د چین لومړنۍ ریلي ترانزیټي محمولې رارسېدل

افغانستان په وچه کې ایسار هېواد دی او اوبو ته د نه لاسرسي له امله د سوداګرۍ په برخه کې په نورو هېوادونــو متکي دی. همدا لامل دی چې زیاتره وخت افغان سوداګر د



ســوداګرۍ برخه کې له ګڼو ستونزو سره مخ وي. پــه وچه کې ایســار هېوادونــه د خپلو ســوداګریزو اړیکو د پیاوړتیا له پاره د ځمکنې ټرانســپورټ له قوي کېدو او له نږدې او لرې ګاونډیــو هېوادونو سره د نږدې ســوداګریزو اړیکو له ټینګولو پرته بلــه لاره نه لري. همدا لامــل دی چې اســلامي امــارت د ځمکنې ټرانســپورټ له لارې هڅه کوي افغانستان د ریــل پټلۍ لــه لارې له ډېــرو هېوادونو سره ونښلوي.

افغانســتان له چین سره ډېره سوداګري لري، خو په مستقیم ډول له چین سره د ځمکنې

ټرانسپورټ له لارې نه دی نښتی. په دې اساس افغانستان اړ دی چې د نورو هېوادونو له لارې له چین سره سوداګري وکړي. وروستیو کې د رېل پټلۍ له لارې د افغانستان او چین سوداګریزې اړیکې قوي شوي دي. له چین څخه د ایران له لارې د هېواد لویدیځ هرات روزنک رېل ګاډي تم ځای ته زر ټنه د اوسپنې کویل رارسېدلي دي.

دا لومړی ځل دی چې د ایران له لارې افغانستان ته د چین توکي رارسېږي. له دې وړاندې د منځنۍ اسیا هېوادونو له لارې له چین سره د افغانستان سوداګریزې اړیکې ټینګې شوي دي. افغانستان ته د ایران له لارې د چینايي توکو رارسېدل ښيي چې د سیمې له هېوادونو سره د افغانستان سیاسي او سوداګریزې اړیکې پیاوړې شوې دي. دا

پیاوړې اړیکې د افغانستان د اقتصادي ودې له پاره ډېرې مهمې دي.

اسلامي امارت د افغانستان د اقتصادي اړیکو د پراختیا له پاره هڅې کوي او ټوله هڅه دا ده چې افغانستان د رېل ګاډي له نړیوال سیستم سره ونښلوي.

# د بادغیس قادس ولسوالۍ د اوبو ذخیروي بند کاري پرمختګ ته کتنه

بادغیس هم د افغانستان له هغو ولایتونو څخه دی چې د ځمکې لاندې اوبو د کمښت له ستونزې سره مخ دی. د تېرې اداري پر مهال د بادغیس ولایت په قادس ولسوالۍ کې د قادر اباد د اوبو د ذخیروي بند چارې پیل شوې وې، خو سر ته و نه رسېدې. د اسلامي امارت له راتګ سره تېر کال د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت د دغه بند د جوړونې چارې

بیا پیل کړې او ژمنه یې وکړه چې دوه کلونو کې به یې چارې بشپړې شي. د روان لمریز کال د مرغومي په اوومه د کلیو د پراختیا او بیا رغونې وزارت سرپرست ملا محمد یونس اخوندزاده د یاد بند له چارو لیدنه وکړه او مسوولینو ته یې لازمې لارښوونې وکړې.

د قادر اباد بند ۳۲ متره لوړوالی لري او کاسه یې د درې میلیون مکعب متره اوبو د ذخیره

کولو ظرفیت لري. دغه بند ۱٤۰۰ هکټاره ځمکه خړوبوي. یاد بند له ملي بودیجې تمویلیږي او ۱۲،۵ میلیون امریکایي ډالر لګښت پرې راځي. د دغه بند له بشپړېدو سره به د قادس ولسوالۍ اوسېدونکو د اوبو ستونزې تر ډېره حل او په سیمه کې به د کرنیز اقتصاد د ودې لامل شي.

